پوهنمل حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۷/۰۱/۰۷

# زیری : د کشتمند د تهمتونو ضد کتاب له چاپه ووت

## ( دویمه برخه )

کارغه ځان لکه طاؤس ماښام کي و ښود
خو سهار يې راز ښـــرگند شو له رفتاره

(د س. کليوال لخوا د يوه دری شعر له پښتو ژباړي نه)




(په تيري ( لومړی ) برخي کي د کشتمند د خيريِ د لا ښه پيژندلو په موخه ، دا هم ياده سوه ، شوروپانو چي کله يې د افغانستان په هکله د خپل ښپاړسم جمهوريت خوبونه په اوبو کي لاهو وليدل ، نو يې ددې هيواد د تجزيې پلان تر لاس لاندي و نيو او سلطانعلي کشتمند ته يې ددې کار د عملي کولو چاري و سپارلي.)

دا هغه وخت وو چي شوروپانو لا افغانستان خپل يو جمهوريت گڼانه ، ببرک کارمل نور د سياسي ډگر نه په رسمي توگه وتلی او ډاکتر نجيب الله ته د چارو واگي سپارل سوي وې ياني دا کار د نجيب په واکمنۍ کي کشتمند تر سر کړ . تر هغه وخته چي شوروي مستقيم اشغال دوام درلود ، نجيب هم د کشتمند د هر اړخيز صلاحيت سره همږغی وو ، خو د اشغال په وروستيو شپو ورځو کي د صلاحيت پر سر د نجيب او کشتمند تر منځ ناندری منځته راغلي او کشتمند



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولــئ

ظاهرا د ائتلافي کابيني د جوړولو پخاطر د څه مودي د پاره پر کور کښيناست او د صدارت چاري ډاکتر حسن شرق ته ور د غاړي سوې.
حسن شرق پدې وخت کي غوښته چي ځان د شوروي اغيز نه وتلی يو مستقل شخص و ښئي ، نو يې په يو لړ ريفورمونو باندي لاس پوري کړ چي تر يوې کچي مثبت هم وه . ده پدې لړ کي په مزار شريف کي د صدارت څانگه هم لغو کړه چي د اشغال ضد وطنپالو روڼ آندو لخوا و ستايل سوه او هرکلی يې وسو.
وړاندي له دې نه چي د کشتمند د ناروا تورونو پر ضد د نوي چاپ سوی درانده کتاب معرفي کولو ته راسم ، غواړم د کشتمند د اصلي څيرې د لا ښه پيژندلو پخاطر يوه بله موضوع هم لوستونکو ته وړاندي کړم:
د شوروی د اشغال پر مهال د ببرک کارمل د واکمنی وروستی کال وو . د برژنيف تر مرني وروسته د کرملين په مشرتابه کي مرگ گډ سو او يو په بل پسي بيلابيلي څيرې واک ته رسيدلي . فکر کوم د گرباچوف د پيل کلونه وه .
دی د خپلو اسلافو په خلاف د شوروي ښکارسم جمهوريت نه اوس په بشپړه توگه ناهيلی ښکاريدي او غوښته يې په افغانستان کي د شورويانو ماته پټه او د سره اردو د وتلو د پاره يوه د اوږو پزه جوړه کړي . پدې خاطر يې په بيلابيلو ديپلوماتيکو او سياسي هلوځلو لکه د ژنيو خبري اتري او نورو کارونو لاس پوري کړ . ده پلان درلود چي د سره اردو تر وتلو وروسته په افغانستان کي يو شوروي پلوی ظاهراً قانوني دولت پاته سي . پدې لړ کي پريکړه وسوه چي افغانستان د خپلو دوديزو لارو ځانته اساسي قانون ولري . ددې پريکړي سره سم د اساسي قانون د تسويد ( اوملیک جوړولو ) په موخه د يوه فرمان له مخي کميسيون و ټاکل سو چي ښه ډير غړي يې درلوده او په راس کي د وطن يو نوميالی شخصيت خدای بخښلي عبدالرحيم هاتف ځای درلود . ددې د پاره چي د اوملیک ابتدايي طرحه جوړه او کميسيون ته وړاندي سي ، نو يوه وړه « د کار کميټه » و ټاکل سوه . ددې کميټي په راس کي پخپله هاتف صاحب وو او غړي يې تر هغه ځايه چي زما پياد دي ، قانونپوه عبدالوهاب ساپی ، قانونپوه مرحوم محمد يعقوب کومک ، قانونپوه مرحوم عبقري ، ډاکتر محمد سليم مجاز ، محترم عبدالواحد سادات ، محترم مليزی ، محترم عبدالوسع غفاري ، ډاکتر عبدالواحد سرابي ( د پلان پخوانی وزير ) او . . . وه . زه (د دغو کرښو ليکوال) هم چي هغه مهال د کانو او صنايعو په وزارت کي د جيوانجينري څيړنو د تصدئ رئيس وم ، د هاتف صاحب لخوا پدغه کميټه کي د خپلي اصلي دندي تر څنگ د همکار په توگه په کار و گمارل سوم . بايد ووايم پدغه کميټه کي ټول همکاران بيله سرابي صاحب نه چي د کشتمند استازيتوب يې کاوه ، ملي او په کار پوه کسان ول . د بيلگي په توگه محترم عبدالواحد سادات چي اوس په ډنمارک کي اوسيږي ، لکه څنگه چي يې د ليکنو سره وطنوال بلد دي ، يو پر وطن مين او په حقوقي چارو کي يو وتلی کارپوه دي . ده ته چي د وطن ملي گټي تر بل هر څه نه لوړي دي ، ځکه يې نو د کشتمند د پلانونو او آندونو په وړاندي سخت حساسيت درلود . همدارنگه د کميټي نژدې ټول نور غړي هم د ورته ځانگړتياوو او ښيگڼو درلودونکي کسان وه.
سلطانعلی کشتمند ته چي د اجرائيه چارو ( حکومت ) مشر وو ، دنده سپارل سوی وه چي د کميټي د کار د پاره د ځای ، قرطاسيی او نورو لوژستيکي چارو غم وخوري . ده دا کار په بيلابيلو پلمو د يوې ورځي نه بلي ته ځنډاوه . په پای کي يې په يوه نيمه مخروبه ځای کي د کميټي د پاره د دفتر تابيا و نيول چي اصلا ددغسي کار دپاره مناسب ځای نه وو.
کميټي لا خپل کار په سمه توگه پيل کړی نه وو چي هاتف صاحب د څو ورځو د پاره په يوه رسمي سفر هندوستان ولاړ . دده د غيابت نه په گټه اخيستلو يوه ورځ کشتمند د کميټي ټول غړي خپل دفتر ته ور وغوښتل . په دغه ورځ د تصادف له مخي زموږ په وزارت ( کانو او صنايعو ) کي د رهبری غونډه وه او زه د همدې غونډي له کبله کميټي ته نه وم تللي ، ځکه نو د ښاغلی کشتمند په ليدو چي بيله هغه يې زما سيوری په توپ ويشت ، مشرف نه سوم . لکه څنگه چي وروسته د کميټي غړو کيسه وکړه ، د کشتمند په دفتر کي دده برسيره ، روسي مشاور او د هغه يو تاجک ژباړونکی هم ناست وه . کشتمند د کميټي غړو ته يوه ټايپ سوی ليکنه چي په ښکلي ډول صحافي سوې وه ، ور کړه او ترې نه يې و غوښتل چي بايد همدا اوس يې تولله په گډه لاسليک کړي . يوه تن پوښتنه ترې کړی وه چي دا څشي دي ، ده ځواب ورکړی وو چي دا د افغانستان د نوی اساسي قانون اوملیک ( مسوده ) دی . بل تن بيا ترې نه اجازه غوښتي وه چي دوي ته وخت ورکړي چي اقلا يو ځل خو يې ولولي . کشتمند ورته ويلي وه چي « اين مسوده را دوستان ما ( موخه يې روسي سلاکاران وه ) به بسيار دقت و با نظرداشت خواسته های توده های وسيع مردم ما ترتيب نموده است ، انها اصرار دارند که بايد همين اکنون امضا و هرچه زودتر به کميسيون تسويد قانون اساسي جهت تائيدي شان راجع و مراحل انفاذ ان طی گردد ، لذا بايد همين اکنون امضا نمائيد » . دوی وايي لکه څنگه چي ددغي مسودې د فصلونو د فهرست څخه ښکاريدل ، هلته پر فدراليزم او د شمالي ولايتونو پر خودمختاری باندي ټاکيد


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

سوي وو او کشتمند پدې اړه ويلي وه ، نور بس ده چي يک لنګه به مخته ځو . پدي تول پوهيدل چي د کشتمند د دوستانو ( روسانو ) په اعتماد دده عملي واک تر کارمل کم نه وو ، نو د تسويد د کاري کميتې ټولو حاضرو غړو په چوپه خوله د دوستانو ( !! ) لخوا هغه د کشتمند د خوښي سره سم ليکل سوی اوملیک لاسليک کړ.
کله چي هاتف صاحب له سفره بيرته راغي ، د کميتې غړو دا کيسه ورته وکړه او هغه ډير خواشينی سو . ولاړی د کارمل سره يې خبری وکړي او و يې ليدل چي د کارمل امر پر کشتمند ډير اغيز نه کوي ، نو يې دهغه د سر مشاور سره خبري وکړي ، ددي کار منفي عواقب يې ورته په ګوته کړه . سر مشاور دده په خبرو قناعت کړی وو ، هغه مسوده يې و ځنډول او کشتمند ته يې ويلي وه ځو کميټه پريږدي چي خپل کار مخته بوزي . مګر تل يې هڅه کول چي د نوموړي مسودې اړين مواد د ښاغلي عبدالواحد سرابي لخوا په کميټه کي مطرح او په نوې مسوده کي ځای کړي ، ولي ټولو غړو يې په يوه خوله مخالفت کاوه . لنډه داچي نوموړي اساسی قانون چي د کارمل پر وخت يې کار پيل سوی وو ، د نجيب د واکمني پر مهال پای ورسيد او د يوې لويې جرګي لخوا تائيد او نافذ سو . بايد ووايم چی د هغه وخت د شرايطو په پام کي نيولو سره د قانون منځپانګه د کاغذ پر مخ تر ډيره حده دموکراتيکه وه ، خو دا چي په عمل کي څه تيريدل ، هغه ټولو ته ښکاره او حاجت د بيان نسته
.

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ